# د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# وياړلی غړی



# قيام الدين خادم

۱۲۸۶ - ۱۳۵۸ ه ش.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

د اروابناد استاد قیام الدین خادم ژوند لیک ته لنډه کتنه د ځلانده ستوری استاد قیام الدین خادم ژوند لیک ته لنډه کتنه د پښتو ژبي او ادب د لوی اسمان مرحوم قیام الدین خادم په ۱۲۸۶لمریز کال دکامي ولسوالی په یوي روحاني کورنی کې دنیاته سترګې پرانیستې دي . دخادم صاحب پلار مرحوم ملا حسام الدین اخوند پخپله سیمه کې یو مشهور او پوه عالم و . قیام الدین خادم لومړنی زده کړې پخپل کورکښې دخپلو والدینو څخه تر سره کړیدي . خادم صاحب لا ماشوم و، چې په زده کړه یې لاس پورې کړ. لکه، چې هغه خپله وایي : ((له کوچنیوالي زما والد زما او زما د نورو وروڼو په زده کړه کې کوښښ کاوه، قرآن شریف او ځینې د نظم کتابونه ما له خپل والد نه لوستي)) خادم صاحب به تل داخبره کوله، چې هغه د لیك ډیر شوقمن و او له خپل ځان سره یې قلمونه، کاغذونه او رنګونه ګرځول او تمامه ورځ به په لیك اخته و.کوم وخت به، چې ورسره قلم او کاغذ نه و؛ نو په ډکو به یې په دېوالونو لیك کاوه. له همدې لامله یې په لږ وخت کې املا او انشا زده شوه . خادم صاحب داسلامي علومو زیات شمېر کتابونه لوستي وه ؛ هغه صرف ،نحوه ،منطق ،حکمت ،فقه ،حدیث ، تفسیر اونور مروجه علوم هم لوستلي دي . هغه ددیني پوهې دترلاسه کولو لپاره 15 کاله دهېواد په داخل او له هېواده بهر سفرونه کړ ي دي . اروابناد خادم صاحب دلومړي ځل لپاره په ۱۳۰۴لمریز کال دکامې په ابتدائیه ښوونځی کې دښوونکي په توګه ددندې په سرته رسولوګمارل شو او وروسته له څه مودې هغه هندوستان ته سفر وکړ.کله، چې تر سفر وروسته وطن ته دوباره راوګرځید دجلال آباد په یوه ښوونځی کې دښوونکي په توګه وټاکل شو. خادم صاحب دوه نیم کاله په لواړګه کې اوسېدلی اوهمدلته یې له شاعری ،لیکوالی او ادبیاتو سره مینې وده وکړه اوهمدلته (په لواړګه کې) یې کوزده او واده هم تر سره شوي دي . خادم صاحب په ۱۳۱۲لمریز کال کې دکندهار ولایت ته ولاړ او هلته دکندهار دپښتو ادبي انجمن دغړي په توګه وګمارل شو. په ۱۳۱۴ لمریزکال کې داسد دمیاشتي پر ۲۵ نېټه دهغه وخت ددولتي اړونده چارواکو په امر او دستورد((پښتو ادبي انجمن ))له کندهار څخه کابل ته ولېږدېده،چي په ۱۳۱۵ لمریز کال دغه انجمن په ((پښتو ټولنه )) ونومول شو . خادم صاحب دري میاشتي د((زیري )) داخبار دنشر ولو مسوولیت په غاړه درلود . په ۱۳۱۸لمریزکال کې دتالیف او ترجمي دشعبې مدیر مقرر شو اوپه ۱۳۲۰ لمریز کال کې دپښتو ټولني دعمومي ریاست مرستیال او بیا په ۱۳۲۱لمریزکال کې داتحاد مشرقي مدیر اوپه ۱۳۲۴لمریزکال ددایره المعارف دترجمي مدیر مقرر شو. په ۱۳۲۵لمریز کال دتعاوني ډیپو دتفتیش لوي مدیر وټاکل شو ،څه وخت وروسته دهرات ولایت ته ولېږل شو . په ۱۳۲۹ لمریزکال دکندهار دطلوع افغان مدیر شو . په ۱۳۳۰ لمریزکال دکابل مجلې دچلوونکي دنده وریغاړه شوه .په ۱۳۳۱لمریز کال دسروبي دبرېښنا دفابریکې دکوپراتیف لوی مدیر مقرر شو. ښاغلي خادم صاحب د هېوادورځپاڼې د موسسې رییس، د ادبیاتو د پوهنځي استاذ او د افغانستان دپارلمان د مشرانو جرګې غړی هم و. په۱۳۳۲لمریزکال کې خادم صاحب د((اصلاح ))ورځپاڼې مدیر شو. دبېلابېلو سیمویه بېلابېلودولتي دندو ګمارل شوی واوهغه دندې یې په پوره سپېڅلتوب سرته رسولي دي . د بېلګې په توګه داصلاح ورځپاڼې دمدیریت ددندې تر سرته رسولو وروسته هغه څوکاله دپښتو ژبې دکورسونو مدیر او په عین وخت کې د((زیري)) داخبار دچلوونکي دنده هم پر غاړه درلوده . اروابناد استاذ قیام الدین خادم د پښتو ژبي او ادب یو پیاوړی لیکوال، شاعر او پوه عالم و او پدې لاره کې یې زیات زیار ایستلی . خادم صاحب په رښتیا سره دپښتو ژبي او ادب خادم و؛ ځکه، نو د پښتو ژبي او ادب د ځلانده آسمان یوله روښو ستورو څخه ګڼل کیږي . استاد د پښتو ژبي او ادب په باب پوره او په زړه پوري منظوم او منثور آثار لیکلي اویوه ښه علمي ذخیره یې زموږ دهېواد راتلونکي نسل ته پرې ایښې ده، چي اوس د پښتو ژبي او ادب لیوال وربانديِ ویاړ ي . خادم صاحب د هغې سپېڅلې او هڅاندي مینې له لامله، چې د خپلو هېوادوالو له سیاسي، علمي او فرهنګي پرمختګونو سره یې لرله، ډېر زیار اوزحمت ګاللی او راتلونکیو نسلونو ته یې دعلمي او فرهنګي پانګې په توګه پرسلګونو مقالو او مضامینوسربېره دمنظوموا‌ومنثورو آثاروډېر په زړه پورې نږ دې ۵۳ کتابونه پرې ایښي، چې دچاپ شویو آثارو له نومونه څخه به یې د لیکنې په وروستی برخه کې یادونه وشي . یو شمېر نورآثار یې کېدای شي لاتر اوسه دخپلوانو د کورونو په تاخچو اویا هم الماریو کې دچاپ په انتظار زاړه شوي وي . پدې هیله، چې یوه ورځ دافغانستان علومو اکاډمي یا داطلاعاتو اوکلتور وزارت دې ټکي ته پام شي،چې دهېواد دپخوانیو لیکوالوناچاپه آثار چاپ کړي اودځوان نسل دپوهاوي اوخبرتیا لپاره یې د هغو په واک کښې ورکړي . ډېر ښه اوتر ټولو بهتره به لاداوي، چې زموږ هغه شمېر ځوانان، چې په انګلیسي ،الماني اوفرانسوي ژبو بلد دي، دپخوانیو لیکوالواودپښتوادب دآسمان دځلانده ستوریو هغه آثار، چې دبهرنیانو د پاملرنې وړ دي، وژباړل شي . "خیالي دنیا" دخادم صاحب ډېر مشهور اثر دی، چې دده د منثورو آثارو مجموعه ده .دغه اثر ته د ادبي ټوټو مجموعه هم ویلای شو. ((خیالي دنیا)) په ۱۳۳۹ ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا د زرو ټوکو په تیراژ په ۹٤ مخونو کې دولتي مطبعې چاپ کړې ده. د کتاب د ټولو ادبي ټوټو شمېر (( شپږ پنځوسو)) ته رسیږي، چي هره ادبي ټوټه یې د افغان ټولنې کره وړه تمثیلوي. د کتاب ادبي ټوټو هره یوه یې دخپلي معنا اوهغومفاهیمو له مخې، چې په کې ځای شوي دي، د پښتو ادب د پراخه بڼ رنګارنګ ګلان ګڼل کیږي . که دغه اثر په پوره پاملرنه ولوستل شي، یوه لوی سمندر ته ورته دی،چې هر څه په کې موندل کیږي . خادم صاحب پدغو لنډو ادبي انځوریزوادبي ټوټوکې مینه ، محبت، د ټولنیز ژوندرازونه ، آزادي، انتقاد، پرمختګ، عبادت، هنر او د ژوندانه ټولې لارې چارې لوستونکي ته ورښیي. مرحوم خادم صاحب په اردو،انګلیسي او عربي ژبوښه پوهېده،دهمدغو ژبو په مرسته هغه دیوه کنجکاو او پلټونکي انسان په توګه هڅېدلی، چې دډېرو شیانو په راز ځان پوه کړي. کیداي شي دهغه دبریالیتوبو د رازونو څخه یو هم دهغه همدا کنجکاوي وبولو . خادم صاحب نه یوازې د علم او پوهې په ډګر کې افغان ولس ته خدمت کاوه، بلکې په سیاسي ډګر کې هم دهېواد دسیاسي ځیرو په قطارکې ورته دقدر په سترګه کتل شوي دي . ښاغلی غبار د((افغانستان در مسیر تاریخ )) ددوه یم ټوک په ۲۳۹ مخ کې لیکي : په ۱۳۲۶ لمریز کال یوه سیاسي ګوند دویښ زلمیانو په نامه علني فعالیت پیل کړ . ددې ګوند بنسټ ایښودونکي او مشران په کابل ،کندهار او



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

ننگرهارکې داکسان يادوي : عبدالروف بينوا،گل پاچاالفت، فيض محمد انگار ،نورمحمد تره کی ،غلام حسن خان صافی( اين دونفر اخير ازدسته عبدالمجيد زابلي بودند) ،محمدرسول خان پشتون ، عبدالشکورخان رشاد،عبدالهادي توخي ،محمدانورخان اڅکزائی، قاضي بهرام خان ،غلام جيلاني خان ،قاضي عبدالصمد خان ،فتح محمد خان خټگر، نور محمد خان قاضي خيل،محمد ابراهيم خواخوږی،محمد ناصر خان لعل پوری، صوفی ولی محمد خان، آغامحمد خان کرزی ،محمد موسی خان شفيق ،غلام محمدخان پوپل ،محمد طاهر خان صافی ،قيام الدين خان خادم ، ارسلاخان سليمی وردگ ،نيک محمدخان پکتيانی ،صديق الله خان ربنتين، عبدالعزيز خان ،عبدلخالق خان واسعي ،محمد علم خان، نوراحمد شاکر، محمدرسول خان مسلم، محمد حسين خان ريدی، عبدالرزاق فرافی ،محمد نور خان علم ،عبيد الله خان صافی ، گل شاه خان صافی، ظهورالله خان همدرد،محمدشريف خان قاضی ،عبدالمنان خان دردمند،شاغلی مليار ، عبدالصمدخان ويسا ،محمد علم بڅرکی وچند نفر ديگر . منشی حزب در اوايل عبدالروف خان بينوا ودر اواخر عبدالرزاق خان فراهي بود. افغانستان در مسير تاريخ- دوه يم ټوک ۲۴۰-۲۳۹ مخونه. د ( ۱۳۲۷ل )کال د جوزا د مياشتې پر اوومه د ويښو زلميانو د تدارک د کميسون په لارښوونه د کندهار، ننگرهار او کابل يو شمېر ادبي او عرفاني ملگرو لکه عبدالرؤف بينوا، فيض محمدانگار، نورمحمد تره کی، قيام الدين خادم، صديق الله ربنتين، گل پاچا الفت، نيک محمد پکتيانی، محمد ارسلان سليمی، عبدالقدوس پرهيز، ابو الحسن هزاره، پاينده محمد روهيلی، محمد ولی زلمی، عطا محمد شېرزی، محمد طاهر تائب او ځينو نورو ليکوالانو او روښنفکرانو د موسسې کنگرې غړيو، چې شمېر يې دوه ويشتو تنو ته رسېده، د دارالامان په افشار وکې د عبدالمجيد زابلي دنوې ماڼی په يوه سالون کې د ماسپښين پر دوه بجو د ويښو زلميانو دگوند جوړولولپاره دېلوبېلوولايتونو د استازيو طرحې وړاندې شوې، چې يوه يې د عبدالروف بينوا او نور محمد تره کي اوبله يې د قيام الدين خادم او دريمه يې د صديق الله رشتين وه. لومړی يې مترقي او عصري، دوه يمې يې ملي اوو طني،دريېمې يې مذهبي او کلتوري رنگ درلود. تر زيات بحث وروسته د ټولو طرحو د مهمو مادو په گډون پر دغو ټکودټولوموافقه راغله : د اسلام او مشروطه شاهي نظام او د پاچاد مقام ددرناوي، د دولت د درې گونو قواوو ترمنځ لکه اجرئيه، مقننيه اوقضائيه تفکيک او بېلوالی ، دهغوي د حقوقو او صلاحيتونو ټاکل، د آزادو ټاکنو له مخې درابلل شوې لويې جرگې له لارې د وخت له غوښتنو سره سم په اساسي قانون کې تعديلات او تغيرات راوستل ، داساسي قانون پلي کول، د علم او معارف خپرېدل او پراختيا، د مطبوعاتو، دفکر او بيان د آزادی تظمينول، د هر ډول نژادي، ژبني او سيمه ييز تعصب او لوړتيا غوښتنومخه نيوی، د قانون په واسطه د افرادو طبيعي اوټولنيزو حقوقو تأ مينول، ظلم، رشوت، پټه سوداگري (قاچاق) او بې عدالتيو سره مبارزه کول، په ټولنيز ژوندکې له افراط او تفريط څخه ډډه کول، د تخنيک اوصنعت رواجول، په هېواد کې دهر چالپاره د کار او تعليم دزمينې برابرول، د کارگرو او بزگرو حقوق، اقتصادي او زراعتي اصلاحاتو ته پاملرنه، دموهوماتو او مزخرفاتو سره مجادله کول، د ملي ژبې پښتو او پښتونستان د ملي خوداردیت پرننگه درېدل، د بشر دحقوقو د اعلاميې درناوی او بين المللي صلح او سلم غوښتل او په عملي صورت دهغوی پلي کېدل ،داهغه مهم ټکي وه، چې ددوی لخوا په جوړه شوې کړنلاره کې ورته ځای ورکړ شوی و . بڅرکي صاحب په پورته يادشوي کتاب کې ليکلي، چې دويښ زلميانو دجنبش لومړی مرام په ۱۳۲۷ل او دوه يم يې په ۱۳۲۸ لمريزکال دزمري دمياشتې په ۲۷ نېټه تصويب شوی دی . گران لوستونکي دمحمد علم بڅرکي (( ويښ زلميان دافغانستان يو سياسي تحريک)) په نامه کتاب کې دخادم صاحب او پښتو ادب دشپږو ستوريو دسياسي فعاليت په اړوند معلومات تر لاسه کولای شي . استاد بختاني په خپل کتاب (( دملي ادب او ژوناليزم خادم))کې دې ټکي ته اشاره کړې ، چې د خادم صاحب د رسمي دندې پيل د خدايي خدمتگارو د تحريك له پيليدو سره هم مهاله دی؛ نو د ځان لپاره د خادم تخلص غوره کول هم له دې تحريك سره د خادم صاحب يو ډول تړاو څرگندوي . ښاغلي بختاني صاحب په خپل ياد شوي کتاب کې د اروانباد خادم تړاو له (( افغان ملت گوند)) سره ښودلی اوحتا هغه يې د دغه گونديو له رسمي بنسټ ايښودونکيو له ډلې څخه بللی دی . اروانباد خادم دحقيقت دڅرگندولو سره مينه لرله او تل يې هر څه بربنډ ويل . خادم صاحب په زيات شمېر ادبي او علمي محافلو کې برخه اخيستې ده او کله کله ددولت اړونده ا رگانو لخوا په ستاين ليکونو او ډاليو هم نازول شواو ستاينه يې شوې ده . مرحوم خادم دفلسفي اند او علمي شخصيت څښتن و،هغه په رښتيا سره دخپل ولس سره مينه درلوده او دهغه خدمت يې په ډېره خوښی سره کاوه. د ((نصوص الحکم)) په سريزه کې د خادم صاحب ملي فکر په اړوند داسې ليکل شوي: (( هغه د شخصي فکر پر ځای د ملي فکر تلقين کوي، د ارتقا او پرمختگ لارې ته ځوانان رابولي، ملي وحدت ته بلنه ورکوي او تشتت غندي . استاذ خادم دملي وحدت دټينگښت لپاره په واحد ملي کلتور او واحده ملي ژبه ټينگار کوي او دا د يوه ملت په وحدت کې د بري بنسټ گڼي ،هغه وران کاري غندي.)) ښاغلي بختانی صاحب ليکي :(( خادم صاحب خوشې خبرې نه دي ليکلي، بلکې د قوم ويښولو، پوهولو او لوړوالي لپاره يې سندرې ليکلې دي)) هغه د هر ډول مشکلاتو او سختيو په مقابل کې د مقاومت، صبر ، قناعت او حوصلې لارښوونه کوله . خادم صاحب دمعاصرو ادبياتو دهغو پنځو ستوريوڅخه و، چې دپښتو ادب او کلتور يې ځلولی دی او ديوه داسې ويښ زلمي په احساس يې دپښتو ادب چوپړ کړی، چې دنن زلميان يې درناوی کوي . مرحوم بينوا صاحب ليکي : (( ښاغلی قيام الدين خادم په اوسنيو ليکوالو او شاعرانو کې دقدامت او مشرتوب حق لري ،دافغان پوهانو او اديبانو په لومړۍ ډله کې درېږي)) . د((بلکا)) په سريزه کې ښاغلي عبدالهادي هدايت د خادم صاحب د شخصيت په اړه دهغه وخت دشوروي ليکوال ښاغلي صدقوف نظر دارنگه رانقلوي : (( د ښاغلي استاذ خادم شاعري او تاليفات په شوروي اتحاد کې ورځ په ورځ شهرت پيداکوي او په ټولو ژبو ورباندې تبصرې کيږي. په مسکو کې ويل کيږي، چې خادم په افغانستان کې هغه لاره نيولې ده ، چې (پوشکين) په لويه روسيه کې ورباندې روان و. )) اروانباد کانديد اکاډيميسن سر محقق صديق روهي دده په اړه په خپل کتاب ((دپښتو ادبياتو تاريخ ))کې ليکي : (( کله، چې دويښ زلميانو پر ادبياتو بحث کيږي ؛ نودلومړي ځل لپاره دحبيبي صاحب ، الفت صاحب ، بېنواصاحب ،خادم صاحب ، رښتين صاحب او رشاد صاحب نومونه په ذهن کې تداعي کيږي؛ ځکه، چې دپښتو دمعياري ژبې ليکدود(املأ) او ادبي سبک په پالنه کې ډېر ستر خدمتونه تر سره کړي او زيات شاگردان يې روزلي دي . لوي استاذ ((حبيبي ))او



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

فاضل استاذ ((رشاد)) دواړه دادبي او تاريخي څېړنو سر لاري اوپه خپله برخه کې دتبحر په لحاظ بې ساري دي .محترم استاذ پوهاند رښتين هم په گرامر او ادبي تاريخ کې لوي لاس لري . الفت صاحب ،بېنواصاحب او خادم صاحب که څه هم ادبي څېړنې تر سره کړي، خو هغوی زياتره دربښتيا ددورې دنامتو شاعرانو په توگه شهرت لري )) روهي صاحب داهم زياتوي، چې : (( خادم صاحب دپښتو او پښتونولي اودهېواد له پرمختگ سره ډېره مينه درلوده،هغه دښواوپاکو احساساتو خاوند اودوينا غښتلی ځواک يې درلود . استاذ خادم په اوسني ليکوالو کې خپل ژوند ليک خپورکړی دی، چې په يوه برخه کې يې د(( زما پر حيات انتقادات)) تر سر ليک لاندې داسې ليکلي دي : په ژوندانه کې هيڅوک له انتقاده نه دی خلاص هغه انتقادونه چې پر مايې خلک کوي دادي : ۱/ وايي نه منونکی سړی دی . دا انتقاد په ماباندې زما والدې هم هر وخت کاوه ،مگر زما جواب داو، چې که زه منونکی واي، خوزه به هم دنورو خلکو غوندې وای . په وړکوټوالي به مې دمور سره تل په دې جنگ و.دې به ويل : خلک داسې کوي اوته داسې،مابه ويل، چې : ( خلک راته مه يادوه؛ خلک ،خو هر څه کوي ! ! ! .) ۲/ وايي ډېر بحث کوي اونه قانع کيږي . . . دا خبره نشم فيصله کولای، چې دادخلکو قصور دی اوکه زماعيب؟ استاذان به هم زما پوښتنو ته اريان ول. زه پخپله هم پدې قانع يم، چې بحث مې خوښ دی، مگر په اساسي او اصولي خبرو، نه مطلق بحث . . . . ۳ / وايي ((سر شوخه دی)) مگر دوستان مې وايي ادبي شجاعت لري .په وړکوتوب کې راته خلکو ويل، چې ((کلانکاردی )) ولې په آزادی، خو زه پخپله هم قايل يم او دا ؛ ځکه، چې دا طبيعي بار زماپه ورميږ نشته. ۴ / هو،په دې يوه گناه زه پخپله هم قانع يم، چې هغه دحقيقت مينه بايد وبولم . خلک په اموروکې دنورو نورو ملاحظاتومراعات کوي ،مگر زه په حقيقت او واقيعت پښې نشم اينښودلای . ما خپل دغه عادت په هغه نظم کې، چې : (دشاعر مسلک) يې نوم دی ښه تصويرکړی دی . زه داټولې خبرې اورم ،مگر دځان سره وايم : ((ډېرې خولې ډېرې خبرې )) . روهي صاحب ليکي: داپورته ليکنه دخادم صاحب دنثر نمونه هم کيدای شي ؛ دده په نثر کي ايجازليدل کيږي اودځينو ليکوالو په شان دحق الزحمې دپاره خبره نه اوږدوي ،بلکه نيغ په نيغه خپل مطلب بيانوي . اروابناد استاذ قيام الدين خادم د پښتو ژبې او ادب ديو پياوړي ليکوال، شاعر اوڅېړونکي په توگه د پښتو ژبې او ادب د آسمان يو له ځلانده ستوروڅخه گڼل شوی دی. د استاذ قيام الدين خادم لومړی نظم، چې په اتحاد مشرقي کې چاپ شو ((شه بيدار پښتونه!) نوميده او لومړی نثر يې، چې د کار او صنعت په اړه له اردو ژبې پښتوته وژباړه هم په اتحاد مشرقي کې چاپ شوی دی . د دې تر څنگ خادم صاحب په کابل کالنی کې يو شمېر څېړنيزې مقالې هم خپرې کړي. لکه: ((پښتونولي))،(( د پښتو ننني ليکوال))، ((د پښتو د نثر تاريخي تطورات)) ،(( د نثر ليکونکيو تذکره))،(( د کوچنيانو اخلاقي پالنه))،(( اصحاب کرام((، ((نوی ژوندون)) او ((په پښتانه شعرا))،دغه يوشمېر عنوانونه دوخت په تېرېدوسره دخادم کورنی په زيار اوزحمت دکتابوتر کچې لوړ او د ټولگو په بڼه چاپ شوي هم دي. د ((ملغلرو امېل)) د استاذ د شعرونو لومړی ټولگه ده او په ۱۳۴۶ل کال کې يې د(( څاروان)) په نامه دوه يمه ټولگه هم له چاپه راووته . استاذ ۳۰ چاپ شوي او تر ۲۰ زيات ناچاپ ارزښتناک آثار د پښتو ادب مينوالو ته په ميراث پرې اينبي دي. د مرحوم خادم صاحب چاپ شوي آثار په لاندې ډول دي : ۱/ دکوچنيانو اخلاقی پالنه ۲/ نوی ژوندون ۳/ روهي گلونه ۴/ پښتونولي ۵/ بايزيد روښان /۶ د شريف سرگذشت ۷/. د ملغلرو امېل ۸ / خيالي دنيا ۹/ نبوغ اوعبقريت ۱۰/ نوی ژوند ۱۱/ د پښتو ننني ليکوال ۱۲/ د پښتو د تاريخ يوه سره پاڼه ۱۳/ د خوشحال او رحمان بابا موازنه ۱۴/ مکارم الاخلاق ۱۵/ څاروان ۱۶/ څلورم ټولگي لپاره د پښتو قرائت ۱۷/ پښتو کلي ۱۸/ معلم پښتو ۱۹/ پښتانه شعراء ۲۰/ پارتيان څوك ول؟ ۲۱/ په تذکره اوليا تبصره ۲۲/ کوشانيان څوك ول؟ ۲۳/ سيد کمال او ببو جانه ۲۴/ د پښتوټپې ۲۵/ لوی اصحابان ۲۶/ نشنليزم او انتر نشنليزم ۲۷/ افغان حکومت ۲۸/ د پښتو نثر ۲۹/ معياري پښتو ۳۰/. نصوص الحکم ۳۱ بلکا ۳۲ د مور مينه - ژباړه متاسفانه لوی استاذ دپښتو ژبې ځلانده ستوری خادم صاحب په ۱۳۵۸ل کال کې دځرخي پله زندان ولېد اوهلته يوه موده زنداني شو . اروابناد استاذ قيام الدين خادم د ۱۳۵۸ل کال د وږي دمياشتې پر پنځمه د کابل په علي اباد روغتون کې دورپېښې ناروغی له لامله د ((۷۲)) کالو په عمر له دې فاني نړۍ څخه دابد لپاره سترگې پټې کړې ، چې جنازه يې د کامې ولسوالی په پلرنی هديره کې خاورو ته وسپارل شوه. يوه اړينه يادونه : درنو لوستونکيو! له بده مرغه دټولو هڅو او زيار تر څنگ مې ونشو کولای دخادم صاحب دژوند ليک په اړوند هغه څه راټول کړم ، چې ما اړين بلل . پدې کار کې زه دځان لټي نه، بلکې دامکاناتو او په بهر کې دعلمي او تاريخي کتابونود کتابتونونشتوالی عمده لامل بولم ، خو سره له دې مې زيار ايستلی ديو شمېر ليکوالونظرونه اوڅرگندونې راټولې کړم . نه پوهيږم، چې ولې زموږ دژبې دداسې سترولیکوالو دژوند په اړه دومره کم څه ليکل شوي دي ؟! چې دلوستونکي تنده نشي پرې ماتېدای ؟! په حقيقت کې داپښتنو يوه لويه بدمرغي ده . تر کومه ځايه، چې گران لوستونکي خبر دي دخادم صاحب اولادونه هر يو روښان خادم ، ډاکتر ثريا خادم په کاناډا اوزيبا خادم په امريکا کې اوسي. هيله مې داده، چې هغوی دخپل پلار دژوند ليک په بشپړولو کې له خپلو هېوادوالو سره مرسته وکړي .

De Arwakhad Ustad Qiamudin Khadim Zwand Leek ta Landa Katana By:Habibullah Ghamkhoor, Malmo-Sweeden